مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۴/۰۶

# غزل

# د لاله گلو مې د وینې واخیست

لا یو تت ستوری ځلېږم په اسمان کښې
لا د ژوند نښې لرمه په خپل ځان کښې

زه په ډکو سترګو ستا لاره څارمه
چې لاهو کړم ځان د اوښکو په باران کښې

زه د جنګ لمبو سېزلی یمه داسې
چې ثاني مې پیدا نه شو په جهان کښې

د لاله ګلو مې رنګ د وینې واخیست
سره غاټول مې توکېدلي بیابان کښې

د تقدیر په ځنځیر بنده "پسرلی"
د ژغورنې لار پیدا کړه دې فغان کښې

** * **   ** * **

یادونه: که چیرې ګران لوستونکی و غواړی چې د دې شاعر نوری لیکنې او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!